پوهندوی آصف بهاند

# د زيتون بانو مړينه

## کيسه ليکواله، شاعره، ډرامه ليکونکې ژورنالسته او ښوونکې

## د پښتني مېرمنو د سختيو د نسل ليکواله



زيتون بانو، هغه پښتنه قلمواله چې ټول عمر يې په ليکنه او فرهنګي کار تېر کړ.

د پښتني مېرمنو د سختيو د نسل ليکواله، زيتون بانو چې څو اړخيزه فرهنګي شخصيت لري او د خپل فرهنګي ژوند په اوږدو کې يې لنډې کيسې ليکلي، شاعري يې کړې ده، ډرامې يې ليکلي دي، د ژورناليزم د ډګر فعاله او ښوونکې پاتې شوې ده د ۲۰۲۱ ع کال د سپتمبر پر څوارلسمه نېټه وفات شوه.

ما د زيتون بانو نوم د لومړي ځل له پاره د ۱۳۵۵ ل کال په پسرلي کې، چې د خپلو پوهنتوني زدکړو په درشل کې وم، له خپلو استادانو واورېد او بيا مې د استاد عبدالرؤف بېنوا په «اوسني ليکوال» کې د مېرمن زيتون بانو بيوګرافي له نظره تېره شوه.

استاد بېنوا کلونه پخوا اغلې زيتون بانو په خپل مشهور اثر «اوسني ليکوال» کې په لنډ ډول معرفي کړې ده او د نظم او نثر يوه ـ يوه بېلګه يې هم خوندي کړې ده. په اوسني ليکوال کې استاد بېنوا زيتون بانو داسې راپېژني:

«مېرمن زيتون بانو د سيد سلطان محمد لور چې د ۱۹۳۶ ع کال د جون پر ۱۸مه د پښتونستان د خليلو تپې په مشهور کلي «سپينه وړۍ» کې زېږېدلې، د پښتو ژبې ښه نثر ليکونکې او شاعره ده.

ښاغلی همیش خليل ليکي چې:

«پلار يې سيد سلطان محمود، په خپله هم د پښتو ښه ليکوال او د پښتو د يو ښه شاعر، سيد عبدالقدوس تندر مشرى زوى دئ. بانو صاحبې ابتدايي تعليم د اسلاميه کالج هاى سکول نه وکړو، د الزابت ګرز هاى سکول نه يې لسم پاس کړو او په «زنانه فرانټيرز کالج» کښې «ايف، ايس، سي» کښې داخله شوه، د يوې اوږدې ناروغتيا له وجهي يې «ايف، ايس، سي» ونکړى شو، نن سبا د خپل پلار سره په پېښور ښار کښې اوسېږي.

د افسانو مجموعه يې د «هينداره» په نوم شائع شوېده.»

(بېنوا عبدالرؤف، اوسني ليکوال (بشپړ متن)، ترتيب او زياتونې: مطيع الله روهيال، علامه رشاد خپرندويه ټولنه کندهار، ۱۳۸۸ش ـ ۲۰۰۹ ام ع کال، ۵۶۳ ام مخ)

په پښتو ويکيپيډيا کې د آغلې زيتون بانو لنډه بيوګرافي راغلې ده، ځينې برخې يې دا دي:

«زيتون بانو

---

د ويکيپېډيا، وړيا پوهنغونډ له خوا



**زيتون بانو، يوه پښتنه ليکواله او اديبه**

**زيتون بانو** (د ۱۹۳۸ زېږدې کال د جون ۱۸، - ) (په انګرېزي: Zaitoon Bano) د پښتونخوا د ښځينه شاعرانو، ليکوالانو او ډرامه ليکونکو له ډلې نه يوه مشهوره ليکواله ده چې د نوموړې ګڼ شمېر ډرامې د پاکستان په ملي ټلويزون ښودل شوي.

مخينه

زيتون بانو د سيد سلطان محمد لور چې په کال ۱۹۳۸ زېږديز کې د پښتونخوا د خليلو ټپې په مشهور کلی سپينه وړۍ کې زېږدلې ده. پلار يې سلطان محمد په خپله هم د پښتو ښه ليکوال او ښه شاعر و چې د عبدالقدوس تندر مشر زوی دی. مېرمن زيتون بانو ابتدايي زده کړې د پېښور داسلاميه کالج په ښوونځي کې شروع کړې او د الزابت ګلز ليسې څخه له لسم ټولګي نه فارغ شوې ده. د لوړو زده کړو لپاره فرنټير کالج ته برياليۍ شوه او زده کړې يې د پښتو اکادمۍ څخه د ماسترۍ تر درجې ورسولې. مېرمن زيتون بانو د باچا خان د ملي نهضت خدايي (خدمتګاران) فعاله غړې وه.

چاپ شوي آثار

1. هنداره - د لنډو کيسو ټولګه
2. مات بنګړي - د لنډو کيسو ټولګه
3. ژوندي غمونه - د لنډو کيسو ټولګه
4. خوبونو - د لنډو کيسو ټولګه
5. زما ډايري - د لنډو کيسو ټولګه
6. نيزه وړۍ - د لنډو کيسو ټولګه

اغلی زيتون بانو پر ۱۴م ستمبر ۲۰۲۱ ميلادی کال له نيمګړې نړۍ څخه د تل لپاره سترګې پټې کړې.»

له بده شامته چې د پښتو او اردو ژبې دا حقداره قلموالې او فرهنګي شخصيت مو څو ورځې مخکې له لاسه ورکړه. تـانــد ويبپاڼې د زيتون بانو د مړينې خبر داسې خپور کړ:

## »نامتو ليکواله زيتون بانو وفات شوه

خبريال:
taand
سپتمبر 14, 2021

تاند(چهارشنبه، نامتو کيسه ليکواله زيتون بانو د ۸۳ کلونو په عمر وفات شوه.

زيتون بانو په کال ۱۹۳۸ م کال د خيبرپښتونخوا د خليلو ټپې په مشهور کلی سپينه وړۍ کې زېږدلې ده. پلار سيد سلطان محمد نومېده او په خپله هم د پښتو ښه ليکوال او ښه شاعر و چې د عبدالقدوس تندر مشر زوی و.

مېرمن زيتون بانو ابتدايي زده کړې د پېښور د اسلاميه کالج په ښوونځي کې کړې او د الزابت ګلز ليسې څخه له لسم ټولګي فارغه شوې ده. د لوړو زده کړو لپاره فرنټير کالج ته برياليۍ شوه او زده کړې يې په پښتو اکادمۍ کې د ماسترۍ تر درجې ورسولې. مېرمن زيتون بانو د باچا خان د ملي تحريک خدايي (خدمتګاران) فعاله غړې وه.

دې د ګڼو لنډو کيسو ترڅنګ راډيويي ډرامې هم کښلې دي.

زيتون بانو په خپلو کيسو کې د ښځو مسايل په ښکلي انداز انځور کړې دي.»

دغه راز په بي بي سي پښتو کې د زيتون بانو د فرهنګي شخصيت او مړينې په باب داسې راغلي دي:

## د پښتو ژبې پېژندل شوې لیکواله او شاعره زیتون بانو د ۸۳ کاله په عمر وفات شوه

۲۳ وږی ۱۴۰۰ - ۱۴ سپتمبر ۲۰۲۱



د پښتو ژبې مشهوره لیکواله، خبریاله او شاعره زیتون بانو د ۸۳ کالو په عمر د ورپېښې ناروغۍ له کبله پېښور کې وفات شوه. زیتون بانو د لیکوالۍ او شاعرۍ تر څنګ په پېښور راډیو کې د پروډیوسرۍ په توګه هم دنده درلوده او څه موده ښوونکې هم پاتې شوې وه.

زیتون بانو له کم عمرۍ د شعر لیکل پیل کړي وو او وروسته یې د نثر په برخه کې هم ډېر کار کړی او ګڼ شمېر لنډې کیسې، ناولونه او ډرامې یې لیکلې دي.

د پښتو ژبې ادیب او شاعر او د پېښور اسلامیه کالج پوهنتون د پښتو څانګې مشر اباسین یوسفزي د زیتون بانو د لیکوالۍ په هکله بي بي سي ته وویل:

"زیتون بانو د پښتو کیسې ته نوی رنګ ورکړ، په ځانګړې توګه ټولنیزو مسایلو او ښځینه مسایلو کې زیتون بانو داسې څه ویلي، چې دا خبرې مخکې زموږ په کیسو کې نه لیدل کېږي، پر همدې بنسټ موږ ویلای شو چې زیتون بانو یوه انقلابي لیکواله ده."

ښاغلی یوسفزی وایي، زیتون بانو داسې مهال لیکوالي پیل کړه، چې ښځینه لیکوالو ته په زغرده خپله خبره کول خورا ګران کار و او له همدې کبله نوموړې په ادبي کړیو کې ډېره ستایل شوې ده.

نوموړی زیاتوي: "زیتون بانو په خپل وخت کې د لارې ډېر اغزي په خپل پروني کې ټول کړل او د پښتنو مېرمنو لپاره یې د ادب او رسنیو په برخه کې لار هواره کړه."

د زیتون بانو دغه پښتو اثار چاپ شوي دي: هنداره- لنډې کیسې، مات بنګړی- لنډې کیسې، ژوندي غمونه- لنډې کیسې، خوبونو- لنډې کیسې، زما ډایري- لنډې کیسې، نېزه ورې- لنډې کیسې، د شګلو مزل- په ټولنیزه کچه د ښځو ستونزې او داسې ځینې نور کتابونه هم شامل دي.

نوموړي د پښتو تر څنګ په اردو ژبه هم لیکوالي کړې ده.

زیتون بانو ته د ادبي خدمتونو له کبله پاکستان حکومت د (تمغه امتیاز) په نامه جایزه هم ورکړې.
د زیتون بانو جنازه به چارشنبه د پېښور ورسک روډ سیمه کې ادا کېږي.»

په یوې مشهورې ویبپاڼې (independenturdu.com) کې د زیتون بانو د مړینې خبر انیلا خالد نومې قلموالې په دې توګه ولیکه:

«زیتون بانو:

د پښتو ادب لومړۍ مېرمن چې تر وروستۍ ورځې پورې یې لیکنې ته دوام ورکړی. د خیبر پښتونخوا مخکښ پوهاند زیتون بانو چې د ادب په نړۍ کې د "مور بیبي" په نوم مشهوره ده، د سه شنبې په شپه مړه شوه.»

زیتون بانو د لنډو کیسو تر څنګ ناولونه او راډیو ډرامونه هم لیکلي دي. دې د خپل فرهنګي کار په موده کې د پښتني مېرمنو د پرمختګ له پاره داسې لار پرانستله چې په ډېر زحمت سره یې د راتلونکو مېرمنو له لارې خنډونه په عملي ډول لرې کړل.

له اوسنیو خپرو شوو اسنادو داسې ښکاري چې له زیتون بانو څخه اوه چاپ شوي کتابونه راپاتې دي، دا یې نومونه دي:

– هېنداره ( لنډې کیسې)،

– ژوندي غمونه ( لنډې کیسې)،

– مات بنګړي ( لنډې کیسې)،

– خوبونه ( لنډې کیسې)،

– زما ډایرې ( لنډې کیسې)،

– نیزه وږی ( لنډې کیسې)،

– سوغات (شعري ټولګه).

کېدای شي زیتونه بانو نه هم لکه نور قلموال په خپل کور کې څه ناچاپ اثار پاتې وي چې موږ او میډیا پرې خبر نه یو، ښایي په راتلونکو چې د چاپ او خپرېدو زمینه ورته برابره شي.

زیتون بانو د هنري نثر د لیکلو ترڅنګ، شاعري هم کړې ده او د ژورنالیزم په ډګر کې یې هم فعالیتونه لرلي دي. د دنیا ورځپاڼې په ویبسایت (https://dunya.com) کې د زیتون بانو په هکله د یوې لیکنې په ترځ کې راغلي دي چې دې د **«منجیلا»** ترسرلیک لاندې یوه شعري ټولګه هم خپره کړې وه. د یادې لیکنې په یوه برخه کې د زیتون بانو د اثارو په باب داسې راغلي دي:

«... زیتون بانو، د تاج سعید مېرمن هم د اردو مشهور لیکوالانو څخه ده. اجازه راکړئ تاسو ته د زیتون بانو په اړه په لنډه توګه ووایم چې هغه په پښتو ادبیاتو کې یو مهم نوم دی. د هغې لیکنې د پښتنې کلتور بشپړ انعکاس دی. د هغې افسانې په نړیواله کچه نوم لري. هغې په خپله کیسو کې د ښځینوو دربدنه او مقاومت په بشپړ ډول انځور کړی دی.

دا مشهوره اردو او پښتو لیکواله د ۱۹۳۸ کال د جون پر ۱۸مه نیټه، پېښور ته نږدې په سفید دره کې زېږېدلې ده. د هغې پلار، پیر سید سلطان محمود شاه، یو روښانفکره لیکوال و چې زیتون بانو باندې یې هم لوړې زدکړې وکړې... هغې د ۱۹۵۸ او ۲۰۰۸ ام کلونو ترمینځ په اردو او پښتو ژبه باندې لنډې کیسې او کتابونه ولیکل... هغې په پښتو ژبه باندې یوازې یوه شعري ټولګه لیکلې وه، «مانجیلا» چې په ۲۰۰۶ ام ع کال کې خپره شوه.»

اغلې پاکیزه ارزو په د ۲۰۱۳ په نومبر کې د « زیتون بانو غوره او منلې کیسه لیکونکې» ترسرلیک لاندې د زیتون بانو د ژوند، هنري هڅو او د هغې د هنري نثر د ځانګړونو په باب یوه غنیمت مقاله په تاند ویبپاڼه کې خپره کړې وه چې ما هماغه وخت په خپل ارشیف کې خوندي کړې وه. دلته به د زیتون بانو د فرهنګي شخصیت ته د درناوي په پار او د اغلې پاکیزه ارزو د قدر وړ څېړنې د بیا یادولو په خاطر، د هغې د لیکنې ځینې برخې راواخلم:

«د پښتو د ښځینو لنډو کیسو په کتار کې چې کوم نوم تر ټولو مخکې راځي او د یوې ستړې کیسه لیکونکې په توګه را څرګندېږي هغه مېرمن زیتون بانو ده، چې تر نیمې پېړۍ یې د ښځو په موضوعاتو او مسایلو کې د یوې پیاوړې کیسه لیکونکې په توګه خپل قلم ځولی دی. ډاکتره انیتا اعظم په خپل څېړنیز اثر(د پښتو په افسانو کې د ښځې اولسي مقام او کردار) کې د مېرمن بانو په هکله لیکي:

«د پښتو فکشن په نړۍ کې زیتون بانو د یوې ستړې افسانه لیکونکې په حیث ډېره څرګنده او په زنانه لیکوالو کې د ټولو نه بره او غوره منلې کېږي. زیتون بانو په خپلو څلورو واړو افسانوي مجموعو:

ــ هېنداره،

ــ مات بنګړي،

ــ خوبونه،

ــ او ژوندي غمونه،

کې زموږ په معاشره کې د ښځې د ذات حیثیت د هغې سره د سړو ناروا سلوک او د هغې نه چاپېره بې شمېره مسلو او د هغې د حل د پاره د لارو چارو په لوري د مختلفو زاویو نه ژوره کتنه کړې ده او یوه ښځه چې د ښځو په مسلو او هغې ته د وړپېښو مشکلاتو او کړاښتونو په حلقه څه محسوسات او تجربات لري هغه واړه د بانو په افسانو کې په ساهو او حقیقي رنګ کې موجود لیدای شي»

... مېرمن بانو د پښتو ژبې په لومړنیو نثر لیکونکې لیکوالو کې د لومړنیو ښځینه نثر لیکونکو په کتار کې راځي، چې:

ــ هېنداره،

ــ ژوندي غمونه،

ــ مات بنګړي،

ــ خوبونو،

ــ زما ډایري،

ــ او نیزه وړی،

په نومونو يې د لنډو کيسو شپږ ټولکي خپرې شوې دي او د **سوغات** په نوم د شعرونو ټولګه هم لري.

مېرمن بانو په کيسه ليکنه کې د جلا سبک خاونده ده. کيسي يې د پښتني محيط د ښه انځور ښې بېلګې دي.
د مېرمن بانو د کيسو محتوا ټوله د ښځو د ژوند بيلابيلو برخو ته بېله شوې او دې د خپل کيسه ليکنې په قوت په ډېره ښکلې داستاني ژبه دا ستونزې بيان کړې دي. د زيتون بانو لنډې کيسې د شکل له پلوه اوږدې دي، د کيسو کرکټرونه يې په ښه توګه انځور کړي، د کيسو ژبه ډېره ساده ده لکه د پښتونخوا خلک چې په روزمره ژوند کې خبرې پرې کوي او د هر کرکټر ژبه د هغه شخصيت ښه نماينده ګې کوي. په خبرو کې يې له تکلف څخه کار نه دی اخيستی، خو په ځينو کيسو کې يې د ضرورت په مطابق بې باکه ژبه هم کارولې ده.

د موضوع او محتوا له پلوه د ښځو ستونزې لکه د زور واده، جنسي غرايز، دود او دستور او پيغورونه او همدارنګه د ښځو د ذات مېراني او استقامت ته ځانګړې شوي دي. ډاکټر انيتا اعظم په خپل اثر (د پښتو په افسانو کې د ښځې مقام او کردار) کې د بانو د کيسو د موضوعاتو په اړه ليکي:

«زيتون بانو په زنانه افسانه ليکونکو کې د ټولو نه باشعوره او لويه افسانه نګاره ده او په باقاعده ډول يې د افساني په ميدان کې د زنانه وو په موضوع باندې ځيني شهکار افساني ليکلي دي او په دې خبره کې به ډېره مبالغه نه وي چې زيتون بانو د دغه اوږد دور ۱۹۵۵ـ ۱۹۸۵ پورې او د هغې پس د پښتو افسانو ايکې زنانه ليکواله ده چا چې د په مستقل مزاجي او تسلسل سره د ښځو په موضوعاتو او د هغوی په مسلو د زړه له اخلاص او مړه خوا بې شمېره افساني وليکلې. د زيتون بانو د افسانو جينکۍ او ښځې د ازدای نه پس د نوي نسل هغه نماينده کردارونه دي چې موږ او تاسو يې خپل ګېر چاپېره ژوند کې وينو.»
د مېرمن زيتون بانو له شپږو ټولګو څخه مې يوازې د ژوندي غمونه، نيزه وړی او زما ډايرې ټولګې پيدا کړې. چې د دغو ټولګو په کيسو کې مېرمن بانو ټولې د ښځو په ډېرو مهمو ستونزې کيسې ليکلې دي او بانو په داستاني ژبه دا ستونزې په ښه توګه بيان کړې دي. چې موضوع له پلوه د ژوندي غمونه ټولګه يې په ډېرو مهمو ښځينه موضوعاتو کيسي لري، چې د چلمچی، ککی، زه کونډه نه يمه ، ژوندي غمونه او زنځيرونه د يادولو وړ دي.

د بانو د کيسو پيغام ډېر واضح دي او د دې ډېرې کيسې د تعليم ارزښت او په خاصه توګه د ښځو تعليم ته ځانګړې شوې کوم ضرورت چې پښتنه ټولنه تل د هغه له کمبود سره مخامخ ده او له نن څخه پنځوس کاله وړاندې چېرته چې سړو نه شوای کولای زده کړې وکړي، مېرمن بانو د ښځو تعليم ته خپلې کيسې ځانګړې کړي دي چې د همداسې کيسو څخه يوه هم د زنځيرونه کيسه ده، چې د تعليم او په خاصه توګه د ښځو د تعليم ارزښت ته ډېره پاملرنه شوې. د دغې کيسې مرکزي کرکټر شمو د خپل د تره له زوی سره کوژده کېږي چې دا کوژده د دې د تره کره ډېرې خوشالی راوړي، خو مخکې له واده د شمو کوژدن مړ شي، شمو ته کونډتون عذاب شي او شمو په کلی کې د سپےړې په نوم مشهوره کېږي. نه يې خسرګنی نه يې پلار ګنی او نه يې خورلڼه په کور کې ساتي. شمو له کلی د ښار په لور مخه کوي. په ښار کې له يوې داسې ښځې سره اشنا کېږي چې هغه خپله هم کونډه وي، خو په خپل همت يې خپل اولادونه پاللي وي. کونډه شمو خپل کورته راولي او شمو ته د ژوند کولو همت وربښي، د کونډې لور جميله شمو ته ليک لوست ورزده کوي ان دا چې لوړې زده کړې پرې کوي او شمو د پوهنتون استاده کېږي او خپل ټول ژوند د ښځو د ژوند ښوالي ته وقف کوي.

دا کيسه د يوه ليک په توګه ليکل شوې چې شمو يې خپلې خورلڼې ته رالېږي او د خپل ټول ژوند حال په کې ليکي چې څرنګه يوه سپےړه او بدبخته شمو خوشبخته کېږي. سره له چې پنځوس کاله وړاندې د ښځو زده کړې عام نه و، خو مېرمن بانو په دغه کيسه کې هڅه کړې چې دا پيغام ټولنې ته ورکړي چې تعليم د نيکمرغي سر چينه ده او که ښځې زده کړې وکړي نو کولای شي چې خپلې ستونزې په خپله حل کړي

همدارنګه د ښځو د حوصلې او استقامت پیغام هم لري چي ښځه په هر قسم حالاتو کي ژوند کولای شي او که همت وکړي کولای شي چي له بدو حالات سره مبارزه وکړي او دا مبارزه به يې ضرور بې نتیجې نه وي.  د مېرمن بانو دغه کیسه د جوړښت له مخې د اوسني دور ښځینه لیکوالو له کیسو سره توپیر لري، خو د موضوع له اړخه نن هم ښځې له همدغو ستونز سره مخامخ دي. له بده مرغه نن هم ښځینه لیکوالې په همدغو موضوعاتو کیسې لیکي چي دا دې بدمرغۍ خبره ده  چي د پښتنو مېرمنو د ځورونې کلو وړاندې ژوند او د اوسني ژوند تر منځ هېڅ توپیر نه دی راغلی، د ښځې وجود نن هم په پښتنه ټولنه کي په هیڅ لحاظ خوندي نه دی، نن هم د ځورونې کلو وړاندې پېښې باربار د ښځو په ژوند کي تکرارېږي.

خو د زنځېرونو د کیسې شمو د کرکټر پر خلاف مېرمن بانو د چلمچي په کیسه کي د يوې داسې پېغلې کرکټر د مهتابې په نوم راپېژنی چي د ډاکټري تر درجې رسېږي خو د روغتون په محیط کي د نارينو ډاکترانو په منځ کي خپل شخصیت نشي ساتلی او د روغتون د هر ډاکټر د دورغنجي مينې ښکار کېږي.

کله چي مهتابه دا ټول احساسوي، نو ډېر پرې ناوخته شوی وي کله چي غواړي د روغتون له يوه عادي کارکونکي سره واده وکړي، نو د روغتون ډاکتران هغه ته وايي چي مهتابه د يوه چلمچي حیثیت لري چي هر چا پکي لاس مینځلی او  هغه سړی هم د واده کولو څخه پښېمانه شي او د مهتابې برخلیک د تور داغ په څېر له هغې سره مل شي. مېرمن بانو په دغه کیسه د يوې پېغلې له معصومو احساساتو د نارينو ناوړه ګټه په ښه توګه انځور کړي.

مېرمن بانو په کیسو کي که د يوې ساده کلیوالې پېغلې ستونزې او دردونه راخیستي نو د ښار په ازاد محیط کي يې ښځې هم نه دي هېرې او د هغو مسایل يې هم په کیسو کي رانغښتي دي، چي په دواړو چاپیریالونو کي  په يوه رنګ ورسره مخامخ دي.

د مېرمن زیتون بانو د ژوندي غمونه د ټولګې ټولې کیسې د موضوع له اړخه ډېرې درنې دي او په داسې موضوعاتو يې کیسې لیکلي چي ښځې په وار وار ورسره مخ شوي. زیتون بانو د ستري کیسه لیکونکې په توګه د ښځینو په کیس لیکونکو کي خپل ځای او مقام لري او کیسې يې ښځو ته د ورپېښنو مسایلو صفا هینداره ده. مېرمن بانو د خپلې وروستۍ ټولګې (نیزی وړی) تړون په خپل نوم کړی او ويلي دي:

**«چي زه يوه ښځه يم او د ښځې د زمکي په مخ هیڅ خپل نشته.»**

اغلې زیتون بانو که له يوې خوا په يوه نارينه واکې ټولنې کي د ښځو د حقونو انځورونکې او غوښتونکې ده، نو له بلې خوا په خپلو ټولو فرهنګي کارونو (کیسه لیکواله، شاعره، ډرامه لیکونکې ژورنالسته او ښوونکې) کي د يوه جلا سبک لرونکې فرهنګي شخصیت حثیت هم لري او ټول عمر يې په نظر او عمل کي د پښتنې ټولنې له هغو منفي دودونو سره په مبارزه کي تېر کړ، چي پښتنې مېرمنې په کي رااېثار دي.

**د زیتون بانو اروح دې ښاده وي،**

**جنت الفردوس يې ځای**

دا هم د زیتون بانو د پښتو کلام يوه بېلګه:!!!!!

کـــه راځې، نــو رود د اوښکو بــه روان کړم
د الــفــت ګـــودر بــه بـــيا درتــه ودان کړم

ژوند مې لاړو يو ارمان شو دې ارمان کي
چي پـــوره د ارمـــانـــي ژونـــد يـــو ارمان کړم

د سپرلي او د سرو ګلو ذکر مه کړه
زه قصه د سوي زړه څيرې ګريوان کړم

دا خو اوښکې ځارول دي ستا له غمه
سر به هم د ستا له سر ځنې قربان کړم

په زړګي مې توري لړې راخورې دي
ځکه طمع د ککو نه د باران کړم

د خيالونو ګوډاګی يې ځوانيمرګ شو
اوس به څه باندې قرار زړګی نادان کړم

زما رنځ خو دغه رنځ دی بس طبيبه!
چې ته راشې زه خپل رنځ درته بيان کړم

که مې څړيکه د بانو د مينې درکړه
نو قسم دی چې دا مينه به آسمان کړم

www.dawatmedia24.com